# بېشکه مومن ته په جنت کې داسې يوه خيمه شته چې له صدف (ملغلرې) جوړه شوي وي او داخل يې تش وي، اوږدوالی يې شپيته ميل دی، په دې خيمه کې به د مومن لپاره ميرمنې وي، په دوی ټولو به ګرځي، خو يو بل نه ويني

له ابو موسیٰ رضي الله عنه نه روايت دی، چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "بېشکه مومن ته په جنت کې داسې يوه خيمه شته چې له صدف (ملغلرې) جوړه شوي وي او داخل يې تش وي، اوږدوالی يې شپيته ميل دی، په دې خيمه کې به د مومن لپاره ميرمنې وي، په دوی ټولو به ګرځي، خو يو بل نه ويني".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلی الله عليه وسلم د جنت د ځينو نعمتونو په اړه خبر ورکوي چې مومن ته په جنت کې يوه ستره، پراخه، او خالي منځي خيمه شته چې له يوې صدف دانې جوړه ده، اوږدوالی او پلنوالی يې په اسمان کې شپيته ميله دی، په هر اړخ، کونج او څلورو زاويو کې يې ښځې دي چې يوبل به نه ويني، او مؤمن به پرې ګرځي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8349